(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

امريكافيصله كريده چي پاكستان دتروريزم دملاتركونكي له جملي نه ، ونه شميري :

واشنگتن - دچنگاښ ۲۵ نيته :

امريكافيصله كريده چي پاكستان دهغوهيوادونوله جملي نه ونه شميري كوم چي دتروريزم ملاتركوي.

خبرياتوي چي پاكستان دامريكادي فيصلي ته به راغلاست ويلي دي، دپاكستان دحكومت يوتن وياندكرم ذكي دبوي مركي په ترځ كي پرهندباندي تورولگاوه چي دوي په دروغو پرپاكستان تورلگوي چي دهندتر اشغال لاندي كشميري مسلمانانوته وسلي وركوي .

نوموړي هندوستان تورن كرچي په اشغالي كشميركي ډوحشت اوبربريت پيل كري دي.

نوموړي زياته كره چي پاكستان اوامريكادواړه خپلومينځونوكي موافقه كريده چي دتروريزم مخه به په كلكه نيسي .

حملات نيروهاي مشترك المنافع درولايت تخار۲۰۰ كشته وزخمي بجاگذاشت

تخار- ۲٤سرطان :

حوالي ساعت ۷ - ۹ بجه شب جمعهٔ گذشته روستاهاوقريه جات ولسوالي چاه آب ولايت تخارتحت آتش سلاحهاي ثقيله وبي ام چهل ويك نيروهاي مشترك المنافع كه درسرحدات جابجاشده اند قرارگرفت.درنتيجه ۲۰۰ منزل منهدم وبيش از ۳۰۰ تن ازهم وطنان بي دفاع ماشهيدوزخمي گرديدند .

راديوكابل گزارش ميدهدكه قريه جات چهاردره ورنخا وتنگي بالا دراثراين آتش باري طعمه حريق شده است

شمارهٔ مسلسل ٦٦٠ سال شانزدهم شمارهٔ ٤٨ يكشنبه ۲۷ سرطان ۱۳۷۲ هـ ، ش (۲۹) محرم ١٤١٤ هـ ، ق (۱۸) جولاي ۱۹۹۲ م

بيه: يوه روپي يا ۵۰ افغانی

ورورقاضي محمدامين «وقاد »دبي بي سي له خبريال سره په مركه كي :

كه دتاجكستان دحكومت سياست اوپاليسي دروسيي دحكومت له سيا ست اوپاليسي نه متاثره وي ، يقيناً په افغانانو باندي منفي اثرلري

كابل - دچنگاښ ۲٦ :

تيره شپه ورورقاضي محمدامين وقاد دبي بي سي دخبريال ديوي پوښتني په ځواب كي وويل : داچي دتاجكستان حكومت پخپل ولس كي محبوبيت اومقبوليت نه لري تودهغه دولت څخه اكثره خلك ئي ناراض دي اودتاجكستان ملت ددولت له ظلمونواوتجاوزونوله كبله افغانستان ته په هجرت باندي مجبورشوي دي

زمورنظريه اومشوره داده چي دتاجكستان حكومت پخپل سياست اوپاليسي اوپخپله رويه باندي دځپل ولس په نسبت تجديدنظروكړي هغوي دي دظلم اوتيري لاره نه غوره كوي چي ملت ئي دوطن په پريښودومجبورشي بلكي دتفاهم لاردي غوره كري .

افغاني جهت كولاي شي دهغوي سره پدي باره كي چي تاجكي مهاجرخپلووطنونو ته په پوره عزت اوپوره اطمينان سره بيرته ولاړشي تفاهم وكري اوكوم تشنج اوبرخوردونه چي واقع شويدي دهغي دتكرارمخه ونيسي . هسي كه دتاجكستان رويه پدي شكل وي لكه اوس هغه پخپل سياست

۳مخ

دجمهوررئيس محترم برهان الدين رباني "په مشرى دوزيرانو عالى غونډه وشوه

كابل - ۲٦ :

دافغانستان داسلامي دولت جمهوررئيس محترم پروفيسربرهان الدين «رباني» په مشري دوزيرانوعالي غونډه دشنبي په ورځ له غرمي مخكي ددلكشاپه ماني كي جوره شوه. په غونډه كي دايكوپه كانفرانس كي داسلامي دولت دلوررتبه هيأت دربوټ ، دتاجك مهاجرينو ،دمسئلو اوددغي هيوادوروستيوپيښودامنيت دتأمينولواودكابيني دكاردطرزالعمل په باب خبري اتري وشوي . اوبيالرتصميمونه ونيول شول دجمهوري رياست مطبوعاتي دفترددغي تكي دربوټ په وركولو سره زياته كره : په ننني غونډه كي لومړي دافغانستان داسلامي دولت جمهوررئيس محترم برهان .الدين رباني داقتصادي همكاري دايكوسازمان دغروهيوادونو دمشرانو په كانفرانس كي دافغانستان داسلامي دولت دهيأت دگډون دنتيجواودبرخه والو دولتونو اوحكومتونوله مشرانوسره دافغانستان د هرارخيزوخبروپه باب توضيحات وركرل . محترم جمهوررئيس زياته كره دايكودمشرانوپه غونډه كي دافغانستان داسلامي دولت ددريخ اوطرحي په زياتي علاقمندي سره

۳مخ

ازموجوديت قشون مشترك المنافع درمرز بين افغانستان وتاجكستان تشويش زياددريم

حامدكرزي معاون وزارت خارجه دولت اسلامي افغانستان دررابطه به موجوديت قشون مشترك المنافع درمرزهاي بين افغانستان وتاجكستان بارادبويبي بي سي اظهارداشت كه«افغانستان درگذشتهٔ نه چندان دوري موردتجاوزخارجي قرارگرفته به مليونهاشهيدتقديم كرد وتمامي مملكت ماويران شدطبعاً اين كشور ازموجوديت قشون مشترك المنافع درسرحدات بين افغانستان وتاجكستان تشويش بسيارزيادي دارد واميدوارهستيم كه قضاياي داخلي تاجكستان كشوربرادروهمسايه ماازطريق مسالمت آميزو مفاهمه حل وفصل گردد .

به ادامه جهادمسلمانان درمصر:

پنج مبارز مسلمان در قاهره بەشهادت رسيد

قاهره - ۲٦ سرطان :

پنج مبارزمسلمان ديگردرقاهره پايتخت مصربه شهادت رسانيده شد.

طبق گزارش منابع خبري جهان اين پنج تن مبارزمسلمان به يك دادگاه نظامي به اتهام تلاش جهت قتل وزيراطلاعات مصر به دارآويخته شدند .

وزيراطلاعات مصر درجريان تيراندازي بسوي موترحاملش جراحات سطحي برداشت . مبارزين مسلمان همچنان به حمله به تروريست هاي خارجي متهم شده بودند طي سال جاري مجموعاً چهارده تن ازمسلما نان هدفمند ومبارز ازطرف رژيم حسني مبارك شهيدگرديدند .

امريكامنطق انساني ندارد ورفتارش برخلاف اصول بين المللي است

تهران - ۲٤ سرطان :

مطلب ذكرشده گفتهٔ معاون وزارت تعليم وتربيه جمهوري اسلامي ايران است كه به روزجمعه در مراسم استقبال ازعودت پنج محصل ايراني اعزامي به المپياي

ص٤

وركري نو ستاسي موقف څه دي وويل : زمونږموقف هميشه اصولي

۳مخ

جهادي تنظيمونو فيصله كري وه چي ټول غير جهادي تنظيمونه لغو ، اوفعاليت يي ممنوع دي

دچنگاښ ۲۵ نيته :

كله چي داتحاداسلامي افغانستان دمشراستادسياف نه پوښتنه وشوه چي آيادشمال ملي غورځنگ ته په كابينه كي ځاي وركول په كاردي اوكه نه وويل : پروسږكال كله چي دكمونستي نظام دسقوط نه وروسته مونږكابل ته راغلونوقيادي شوراداآراووپه اتفاق سره دافيصله وكره چي ټول غيرجهادي تنظيمونه لغواوفعاليت ئي ممنوع دي له دي نه وروسته تراوسه پوري دكوم بل تنظيم په ارتباط فيصله نه ده شوي كه څوك دهغي نه راپه دي خواكوم نوي تنظيم راپيداكري نوله دي كبله چي دهغي په ارتباط دتنظيمونو دمشرانوفيصله نه ده شوي نوهغه تنظيم به لغوباطل اوغيرقانوني دي

استادسياف ددي پوښتني په ځواب كي چي كه صدراعظم دنوموړي غورځنگ اوپادبل كوم گوند غوروته په كابينه كي ځوكي

پارلمان روسيه به عمليات طيارات جنگي روسي عليه مسلمانان مخالف دولت تاجكستان موافقه كرد

مسكو-۲٤ سرطان :

پارلمان روسيه باتصويب قطعنامهٔ بادرخواسته دولت مبني برگرفتن اجازهٔ استفاده ازطيارات جنگي براي متوقف ساختن حملات مخالفين تاجكستان درمرزآنكشورباافغانستان موافقت كرد .

به گفته راديوامريكا: گاردمرزي روسيه ونظاميان تاجكستان يك پايگاه مرزي راكه چندروزقبل به تصرف مخالفين دولت درآمده بود پس ازيك درگيري شديد پس گرفته است .

گفته شده است كه درنتيجه عمليات مسلمانان تاجكستان بالاي مراكزروسي درمرزتاجكستان وافغانستان اقلاً ۲۵ روسي كشته وپايگاههاي آنهابه تصرف مسلمانان درآمده بود.

سخنگوي رياست جمهوري افغانستان درمصاحبه بابي بي سي :

ماادعاى دولت تاجكستان راردميكنيم وبه مهاجرين تاجك به اساس حق همسايگى وانسانى پناه داده ايم

عزيزمراد سخن گوي رياست جمهوري افغانستان درپاسخ سوالات خبرنگارراديوبي بي سي دررابطه به قضاياي جاري سرحدات بين افغانستان و تاجكستان روشني انداخته گفت :

جنگ هايكه فعلاً درتاجكستان جريان دارد ويادرگذشته جريان داشت ماآنرامربوط كشور تاجكستان ميدانيم، رئيس جمهور دولت اسلامي افغانستان نسبت علاقه يي كه به حل مسئله تاجكستان ازطريق مذاكره ومفاهمه داشت دركنفرانس "ايكو" ملاقاتي باآغاي رحمانوف رئيس جمهورتاجكستان نمود درين مجلس فيصله به عمل آمدكه مشكل بايد باانعقاد كنفرانس ويامجلس چهارجانبه حل شود .

عزيزمراد به جواب اين سوال كه تاجكستان ادعادارد مهاجرين تاجك دركمپ هاي داخل افغانستان تربيه نظامي مي بينند ويكجابامجاهدين افغان به تاجكستان داخل مي شوند،گفت كه كمپ هايكه ازمهاجرين تاجكي

ص۳

موزغوښتل چي دابي مفهومه جنگونه اونښتي بايدله مينځه يوړل شي

دچنگاښ ۲۵ نيته :

قوماندان عبدالحق په دي وروستيوكي پكتيا،غزني اووردگوته تللي وده دبي بي سي سره په مركه كي دځپل سفردمقصدپه هكله وويل چي هغه په غزني كي دقاري بابا سيمي ته ورغلي و، قاري صاحب باباپه دي قادرشوي وچي ددغومختلفوقومونوترمينځ يوتفاهم په دي شكل سره راوستي و چي ددي پرځاي چي يوبل سره ووژني اوجنگونه وكري نويوه شوراسره جوره كريوه چي خپل مشكلات ئي دخبرواودتفاهم له لاري حل كري . ده دځپل سفردهدف په هكله وويل : ددي سفريوه مسئله داوه چي موږغوښتل چي هلته داخبري وكرو چي دغه بي مفهومه جنگ اومرگ چي دځينوتنظيمونو له خوانه په افغانستان كي دقومونوپه نامه اچول شويدي دابويي ځايه مرگ دي اودافغانستان مسائل په دي باندي نه حل كيږي چي دځپل قدرت دحفاظت لپاره خپل مملكت كي سري دسيمي جوړي كري اوخپل ولس په جنگ واچوي نوموړ ددوي سره

۳مخ

دلغمان ولايت داستادانو مسلكى اوتربيوى سيمينارديوى پرتمينى غونډى په ترځ كي پاي ته ورسيد

لغمان - چنگاښ ٢٤ :

دلغمان ولايت له مركز مهترلام نه په رارسيدلي خبركي ويل شوي: دلغمان ولايت مركز دروشان ليسي په انگركي هغه مسلكي اوتربيوي سيمينارچي دتېراسكا دتعليمي موسسي په مرسته دغبرگولي دمياشتي په ۲۲ نيته پيل شوي ودچنگاښ دمياشتي په ۲٤ نيته دبولرمراسمويه ترځ كي پاي ته ورسيده .

خبرياتوي: دغه مراسم چي دفارغانودبري ليكونودوكري په مناسبت دچنگاښ په ۲٤ نيته نيول شوي وو دسهارپه ۷:۳۰ بجودقرآن عظيم الشان دخومباركواياتونوپه تلاوت سره پيل شوه بيادسيمينارگدون كوونكوته دلغمان ولايت دجهادي جبهاتوامبراو والي محترم استادعبدالله واحدي دخپلوارزښتناكوويناوپه ترځ كي وويل: اوس چي دافغانستان اسلامي انقلاب دبشپړ بري په درشل كي ولاړدي دجنگ اوجگړي دورختم شوي مگرزمونږمسئوليت دسوونې اوروزني په اړوند له پخوانه ديرزيات شوي مونږبايد خپله بشپړه توجه دوطن داعمار، اسلامي حكومت دټينگښت، دځپل مظلوم ملت دهوساوسوكاله ژوندلپاره وقف كرو اوداكارهغه وخت ممكن دي چي مور دعلم دروسانه ډيوي په رڼاكي ژوندوكرو ددي لپاره حتمي اومناسبه لاره داده چي مونږخپل ماشومان

۳مخ

كه دافغانستان وگري دډاكترانوهدايت مراعات نكري نوپه ملك كي دكولرا«وبا»راتلل حتمي دي

كابل - دچنگاښ ۲۵ نيته :

دافغانستان دروغتياوزيرامين فاطمي ويلي چي كه دافغانستان وگري دډاكترانودهدايت سره سم حفظ الصحه مراعات نكري نوپه ملك كي دكولرا«وبا » راتلل حتمي دي .

ده وويل چي دكابل په ښاركي دسلونه زيات مريضان چي په كولرا اخته دي تشخيص شويدي. پرته له دي په پولي كلنيك كي ددووسوونه زيات خلك دكولراپه مرض باندي اخته شويدي .

خبرياتوي چي دتخاردولايت نه په ريوټونوكي هم ويل شوي چي ددغه ناروغي له كبله تراوسه پوري پنځوس كسان مره شويدي .

نربواله خيريه موسسولكه سره صليب، اودروغتيانړي واله سازمان افغانستان ته دكولرادمعالجي اوددوااستول پيل كري دي .

بنام خالقيكه بر قلم، مهربان رنهايت پاكرم است

ذمه داركيست ؟

ازمدتي است كه هنگامهٔ شيوع مرض وبا وهم چنان مسموميت موادغذايي درشهركابل فضاي مطبوعات راآگنده نموده است.

شنيده مي شود كه شفاخانه هاي شهركابل ازتعداد كثيرمريضان مصاب به وبا باتسمم غذايي پرشدوحال عده يي مضطروتشويشناك است ومرادف به آن ازوقوع مسموميت ها دراطراف واكناف بخصوص مراكز ولاياتي چون بغلان ، لغمان ، ننگرهار وغزني شايعا تي بخش گرديده ودرضمن ازگرفتاري عده بي سمپاشي يادآوري شده است.

دراخبارآمده است كه موادمسموم شده علاوه برآنكه ازپاكستان واردميشود شامل زردآلو ، آلو بالو ،گيلاس،كوك،پنيروبادرنگ كه ازتوليدات داخلي محسوب ميگردد نيزميباشد ، وطبق اخبار واصله ازكابل خربوزه كه ميوهٔ موردپسند شهروندان كابل است ، نيزموردداشتباه قرارگرفته است وامروز مردم شهركابل ازخوف آنكه ازخطرمرض مصون مانده باشنداززخوردن ميوه جات كه مهمترين بخش موادغذايي انسان راتشكيل ميدهد ومخازن مهم ويتامين ها اند خودداري مي ورزند ، وشايد دردرازمدت بانخوردن ميوه جات تازه ،كمبود ويتامين محسوس شده اكثر مردم كابل به امراض مختلفه دست وپاگيروغيرقابل علاج مبتلا شوند.

دردآوراينكه وزارت صحت عامه درتوأميت باانتظاميه تاهنوز نتوانسته است راه مبارزه بااين مشكل رادرپابد وازآن جلو گيري نمايد وشايد علت بي نظمي وعدم امكانات لازم باشد.

پرواضح است كه عدم استحكام وضع سياسي دركشوربه همه ابعاد حياتي مردم تاثير داشته ونقش بدخورراايفانموده وسرنوشت شومي رابراي ملتها مي بخشد.

مسلم است كه مشكل وزارت صحت عامه وياانتظاميه ازناحيهٔ پريشاني وضع سياسي كشوراست ، اگر بحران سياسي حل شود ،كشمكش هاي وقت تلف كن وبيهوده ميان سياستمداران خاتمه يابد ونظام حاكمه به روال طبيعي راه افتد وهركي به كارمربوط بخويش اشتغال ورزد .طبيعي است كه امكانات لازمه درهربخشي بخصوص بخش صحي فراهم ميابد.

زيرا مادرعصري زندگي داريم كه مصنوعات طبي درمجادله باامراض درحدلازم است ووسايل وامكانات درحدوفوردردنياي ماپيدامي شود وحكومت ميتواند به ياري كشورهاي دوست ومتحابه به رفع اين مشكل بپردازد، وشرايط بازحياتي رابراي اتباع خويش فراهم آورد ازبخت بدوباهزارتاسف كه حكومت تاهنوز قادر نه شده است درمركزكابل جاي پا بازكند.

اگروضع سياسي بدينمنوال ادامه يابد وحكومت باپايه هاي متين وبه اراده وتعاون مردم استوار نگردد ، احتمال بروز صدها مرض

ص٤

سخن روز

دتاجکستان اسلامي غورځنګ اودروس پوځي تيري .

فضل مولا"لټون"

د۱۳٦۷ هه ش کال ددلوي په مياشت کښي چي کله روسي پوځونه ماتي خوړلي زموږله ګران هيواد افغانستان نه وتلو ته اړشول ، له هماغه ورځي هرڅافکرکاوه چي نوره روسي امپراتوري پرڅپل حال پاتي کيداي نه شي اوپه مرکزي آسيا کښي دشپږواسلامي جمهوريتونو آزادي اوداسلام مبارك دين ته بيرته راګرځيدل بوه حتمي چاره ګڼل کيده اوبيا په تيره تيره کله چي روسي امپراتوري دړي وړي شوه اوله استعماري نس نه يې پنځلس آزادهيوادونه راووتل ، دغه مهال خوبيا د چاپه ذهن کښي هم داخبره نه راتلله چي کمونيزم به پخپله ځاله (روسيه) کي ماتي وخوري او روسيه به پخپله دسرمايه داري په لور مخه وکړي ، نورتر روسي استعمار لاندي هيوادونه به هم دکمونيزم نظريه منفوره او مړه وبولي اودنړيوال پانګوالي نظام دخپلولو هڅي به پيل کړي، خوهغه اسلامي هيوادونه چي له تزاري استعمارنه نيولي دکمونيستي ښکيلاك ترپاي اومړيني پوري دکمونستي وحشيانه جبر او تيري ښکاروو، په هغوهيوادوکښي به بايخواني کمونست حکومتونه پرخپل حال پاته شي او يابه همدغه کمونيستي زاړه واکداران له راپرځيدو وروسته بيا ځملي واك ته ورسيږي اوداسلامي پاڅونوپه مقابل کښي به بيا هم له روس نه پوځي مرستي غواړي .

اوبي غيرته خرس مشربه روسان به هم دخپلي ترڅي ماضي په هيرولو په دغو هيوادو کښي پوځي مداخلي ته زړه ښه کوي.

درنو لوستونکيو ! دنړيوالو رسنيوپه خبرونو کښي به مواووريدلي وي چي دتاجکستان په جمهوريت کښي چي له افغانستان سره شريکه پوله لري ، دکمونيزم له پنجو نه د هغه هيوا دمسلمانانو مجاهدينو په پولي نظامي عملياتو لاس پوري کړي اوپه دي ورځو کښي يي دکمونيزم ترتسلط لاندي ددوه سوو په شاوخواکښي کمونيستي بريځي اودشلوپه شاوخواکښي روسي پوځيان وژلي دي. ددي عملياتو په نتيجه کښي دروسيي پارلمان چي تقريباً له دووکالو راپديخوا د روسيي دجمهور رئيس يلسين دسياسي اواقتصادي ريفورمونو مخالفت کوي ، ديلسين دغه وړانديزدرايو په اتفاق منظورکړچي په تاجکستان کښي کمونستي حکومت ته داسلام دلاري دمجاهدينو له خواخطره پيښه ده اوهم په اصطلاح دروسيي استعماري ګټي په خطرکښي دي ، تاجکستان ته بي دهغه هيواد دپوځونو لپاره منظوري ورکړه چي ۳۵۰۰ (دري نيم زره) روسي پوځيان له درندو وسلو سره دتاجکستان اوافغانستان په پوله کښي دمجاهدينو دعملياتو دمخنيوي له پاره مؤظف کړي ، په دي ترڅ کښي دروسيي ددفاع وزير تاجکستان ته سفر وکړ اوله دي سره جوخت دکابل راديو اعلان وکړ چي روسي پوځونو دتخار پرولايت ددرندو

توپونو ډزي کړي ددغو ډزو له امله زموږدهيواد دمظلومو خلکو تقريباً دوه سوه کورونه ويجارشوي اود(۸۰) اتياو په شاوخواکښي بي ګناه وګړي شهيدان شوي دي.

دروسيي امپراتوري له ماتيدو وروسته دغه ستر استعماري هيواد هم دانګريزي استعمار په څير دنويو آزادوشويوهيوادو ترمنځ سرحدي لانجي اوکشالي پريښي دي اوهره ورځ دنړيوالو خبري وسيلو له لاري اوريدل کيږي چي دنګورنو قره باغ ، دچار جيا اوافقازيا اودروسيي او سپني روسي دجمهوريتو نو ترمنځ سرحدي جګړي رواني دي. اودنګورنو قره باغ پرسيمه خودآرمينيا اوآذربايجان ترمنځ ځوکلني جګړي رواني دي او په دي ورځو کښي آرمينيانو له آذربايجان نه دقره باغ پرسيمه سربيره زياتي نوري سيمي هم نيولي دي، خوهلته دروسي پوځونو دمداخلي اوياحتي منځګړتوب له پاره هيڅوول هلي ځلي نه ليدل کيږي او همدغسي بي دنورو آزادوشويوهيوادونو خپلمنځي جګړي درواخله ، چي پرځان اخته روسانو پکښي هيڅ ډول مداخله نه ده کړي . خوتاجکستان ته له دي امله پوځونه ليږل کيږي چي په دغه هيوادکښي کمونستي حکومت ته خطره پيښه ده .

تاجکستان ته دروسي پوځونو راتګ پرته له دي بله معني نه لري چي په خصوصي ډول په تاجکستان کښي داسلامي ځواکونو مخه ونيسي اوپه عمومي ډول دټولي مرکزي آسيا دجمهوريتونو کمونستو واکوالو ته ددي جرئت ورکړي چي دپخواپه څيرداسلامي خوځښتونو پرخلاف په قاطع ډول وحشيانه عمل وکړي او پري نه ږدي چي په دغوهيوادوکښي اسلامي نهضتونه پياوړي شي ، ښايي له روسانو سره په دي کارکښي دکفري نړي نورځواکمن هيوادونه چي په سرکښي يي امريکا ده هم نظري وي ، ځکه غربي نړي هم د کمونستي بلاك له ماتيدو وروسته اسلام اواسلامي ځواکونه دخپل بوازيني دښمن په حيث پيژني او رنګارنګ تاپي پري لګوي.

همداډول دمرکزي آسيا په نويو آزادوشويو جمهوريتونو کښي دکمونستانو بياواکوال کيدل زموږپه ګران هيواد افغانستان کښي دمجاهدوځواکونو دخپلمنځي اختلافاتو سره ژوري اړيکي لري ، ځکه چي زموږدجهادي قيادتونو دخپلمنځي اختلافونو له امله که په دغو نويو آزادو هيوادونو کښي اسلامي خوځښتونو هرڅومره ضربي وليدلي ،موږورسره هيڅ ډول مرسته ونه کړاي شوه له بله پلوه زموږ دخپلمنځي اړوبيچ له امله پخپله زموږ دهيواد په ځينو برخو کښي دپخواني کمونستي رژيم دپاتي شونيو نظامي ځواکونو موجوديت دغه نوي اسلامي خوځښتونه له ناامېدي‌ سره مخامخ کړل ، زموږ ددغو تقريباً پنځلس مياشتنيو کشمکشونو په دوران کښي چي دغواسلامي خو-ځښتونو ته څومره زيان ورسيده ، تلافي يي شايد تر کلونو کلونو پوري دوام وکړي ،ځکه اوس هلته کمونستي حکومتونه قايم دي ورځ په ورځ له نړي‌سره روابط پيدا کوي او په دي ډول دغه اسلامي نهضتونه دپردي ترشااوقع کيږي ، اوهم دافغانستان پولي ته نږدي دروسي پوځونو په ځواکمن شکل ځاي پرځاي کيدل افغاني کمونستانو ته ددي جرئت ورکوي چي دمجاهدينودخپلمنځي اختلافاتو نه په استفادي سره په هيواد کښي ګډوډي رامنځته کړي او په دي ډول مجاهدين پوځه موده نورهم له اتفاق اويووالي لري وساتي.

پکارده چي جهادي ځواکونه ژر ترژره دخپلمنځي يووالي په رامنځته کولو سره په خپل هيوادکښي بو... اوځواکمن حکومت جوړکړي اوپه هيڅ شان له شوبو معاهداتو ... لراوي ونه کړي چي دجهاد اوداسلام ددښمنانو هرډول هيلي اوپروګرامو... له خاورو سره خاوري شي او په افغانستان‌ کښي داصيلو جهادي تنظيمونو ترقيادت لاندي مستحکم حکومت دمرکزي آسيا مظلومو مسلمانانو ته دکمونستي حکومتونوپرخلاف دپاڅون ... وکړي.

دهيوادوالو ورځني ژوند له ويرجن‌حالت سره مخ دي

شمس‌الحق "شمس"

تقريباً يوه اوونۍ مخکې داخلي اوبهرنيوخبري سرچينو په ډيرشدّاومد سره ددي خبري يادونه وکړه چي په کابل ښار کي خوراکي مواد، ميوه جات اولبنيات په زهرجنو موادو ککړشوي چي دکابل ښارزيات اوسيدونکي بي سخت ناروغ اوځيني بي وژلي دي. دغه دردونکي خبر که څه هم چي دعيني شاهدانو له قوله هم تائيدشوي خودروغتيا وزارت محترم وزير هم د بي ، بي ،سي دخبريال دپوښتنو په ځواب کي ددي خبري يادونه وکړه چي : رښتيا هم په کابل ښارکي دخوراکي موادو دمسموم کيدو څخه انکارنشوکولاي خوددي ترڅنګ کوم ناروغان چي روغتيايي کتنځيوته مراجعه کړي اوترتداوي لاندي نيول شوي دمعاينا‌تودسرته رسيدو وروسته پدغوناروغانوکي دکولرا ناروغي علايم کشف شوي چي ددي امکان شته چي په هيوادکي دکولرا(وبا) ناروغي مکروب هم خورشوي وي . پدغه ناروغي ککړناروغان تقريباً ۱٤ کسه په کابل او ٤۰ تنه په مزارشريف کي کشف شوي دي.

که داټولي خبري اوتوجيهات يوي خواته پريږدواوپوالځي پدي خبره سرچ اوغوروکړو چي په کابل ښار اويانورو ولاياتونو کي دڅه لپاره خوراکي موادزهرجن کيږي! داناوړه غيرانساني اوغيرشرعي کارونه څوك کوي ؟اوپدي جنګ ځپليو هيوادوالو ولي غم دپاسه غم جوړيږي ؟ اوس چي څه ناڅه دجنګ اورسوړشوي ،ان شا الله دسوکالي مخ راګرځيدلي ، ولي داڅوريدلي اوکړيدلي ولس دبلي خائنانه اودښمناله لاري دمرګ له خطر سره مخامخ کيږي چي دمخنيوي لپاره ئي بيا هم دومره کافي وخت په کاردي لکه دځانګړيو ګټوپه پام کي نيولوسره چي دتباه کوونکو جنګونو دپيښيدو مخنيوي څه ناڅه شوي دي. آيا ددي ياتورراوقهرمان ولس غمخوراوپه درد دردمن څوك شته چي ددي تباهي مخه ونيسي ؟ اوداپريوتي ولس نوردسپيرو خاورو څخه راپورته کړي اوداانسانيت اوآزاد ي ژوند ورويښي ؟ په هرحال موږيواځي پدي خبري سره ډاډه يوچي پردي مظلوم اومجاهدولس باندي هرڅوك چي هررنګه تادودي کوي اوياپي ددي نه بيوونکي اوډردونکي وضعي موجبات برابرکړي ، الله (ج) به يي ورځني دخپلو اعمالو پوښتنه وکړي اوداکار حتمي کيدونکي دي. اوس داخبره دپادوني وړده چي په ډاګه سره ووايو چي ددي ټولو ناوړو پيښو عوامل اوموجبات دلمړيه شان په ډاګه دي . تيرو ترخو تجروبواوشواهدو داثابته کړي چي دمسلمانانو په تيره دافغان مجاهد ولس په کمين کي پروت دښمن په کراره ناست ندي ، نه غواړي چي باايمانه اوپادرده مجاهدمسلمانان دي دآزادي ، سوکالي اودمحمدي غراشريعت ترسيوري لاندي خپل سپيڅلي ژوند تيرکړي اودټول اسلامي امت لپاره دي الګو وي . موږښه په ياد لروچي کله زموږپاتورو مجاهدينو دتجاوزګرودښمنانو دتيري اوتجاوزمخنيوي کړي ، په ډيره ميړانه سره يي هغه سرکوب کړي ، په ډيرمتانت سره يي دجنګ ميدان ورځني ګټلي نودښمن حتمي له بلي لاري رامخي ته شوي يايي په ولس کي دبي اتفاقي او نفرت لارنيولي ،يايي دبي تولي پيسو په ويشلو شروع کړي ، يايي په تخريبکارانه پروپاګندويسي ژبي درازي کړي دمزدوروخبري سرچينو له لاري بي هغسي زهرجن تبليغات خپاره کړي چي ددېروکمزوروخلکو ددوکي باعث ګرځيدلي اوددښمنا نومرستي او کمك ته بي سترګي نيولي دي ،مطلب داچي له يوي لاري نه بي حتمي دمسلمانانو دګډ کورجوړولو هلي ځلي ياخوکمزوري کړي اويايي ځنډني کړي دي چي ځرګندي نموني بي په تيرڅوارلس کلن جهادي تاريخ اوبيا په تيره له هغي ورځي نه چي په افغانستان کي زموږدايمان اوعقيدي ددښمنانو دحکمروايي تخته دمجاهدينو په لاس چپه شوي اوپه ظاهري شکل سره دقدرت واګي دوي ته سپارل شوي ،له ورايه ښکاري چي هيڅ حاجت دبيان نشته ، دغوراوسوچ کولوخبره خودا ده چي په کمين کي پروت دښمن اوبيا په ډاګه‌سره ووايو په څنګ کي نيولي پخواني کمونستان ، پداسي حال کي چي نه يواځي ددوي لپاره دتيرووحشيانه جناياتو دتحقيق اوپررسي محکمه پرانه نستله شوه ، پوښتنه ورځني ونه شوه حتي دومره هم ورته ونه ويل شول چي دمجاهدينو داسلامي حکومت دجوړيدو تروخته پوري له پخوانيو وظيفو څخه دګوښه کيدو لارونيسئ اوددي انتظار باسئ چي اسلامي حکومت ستاسي په باره کي څه فيصله صادروي ، بلکي هغه جنايت کاران دسرتيري اوباايمانه ولس په ژوند باندي اوس هم لوبي کوي اودخپلي خوښي کړه وړه بي دغوليدليو دوستانو په حمايي سره سرته رسيږي کله چي دمجاهدينوترمنځ دروغي جوړي خبري په تينګيدو شي ، په يوه سلااومشوره شي ، دمهمو اواختلافي مسايلو لکه په کابل ښارکي دامنيت راوستو ، دزينډي اوچورچپاول ختمولو باندي برخليك تاکونکي پريکړي وشي. نوسمدستي به ګوري او يابه يي اوري چي دښاريه پلاټکي ځاي باندي بيا راکټونه راپريوتل اودومره تاوان بي واړاوه ، دښاريه پلاټکي اوپلاټکي سيمه کي دپلاټکي اوپلاټکي ددلو ترمنځ بيا خونړي نښتي وشوي. اودمزدوروکفري راډيوګانو له لاري به بيا داټولي نادودي په واقعي اواصيلو مجاهدينو ورتپي اوپه ناحقه تبليغاتو پسي به بي خوله خلاصه کړي وي اوهمدغه پروپاګندته به زورورکوي ترڅو دوي دځان لپاره برائت حاصل کړي .خو داخبره اوس- ټولو هيوادوالو ته ځرګنده شوي اوپه ثبوت رسيدلي چي هماغه پخواني کمونستان دي چي دښار په مرکزي برخو کي بي ځلورلاري نيولي ،هرکله چي دمجاهدينو ديووالي خبره حس کړي په ډيره بي رحمانه توګه دخلکو داوسيدو ځايونه په راکټونو ولي ،دهرج ومرج دجوړيدو لپاره دخلکو مال اوعزت پايمالوي ، دمجاهدو ځواکونو سنګرونه په توغنديو ولي ترڅو متقابل لوري په زوردمقابلي لپاره وهڅوي اودسولي پروسه ورباندي ورانه ويجاړه کړي چي داپه څنګ کي دنيولو کمونستانو دتخريبکاري ترلږ روښانه بيلګي دي نوبيوڅوك چي ددارنګه ناوړه اوغير انساني عملونو دسرته رسيدو جرئت اوتوان ولري ، په مقابل کي بي ځني دوستان هم دشاباسي کلمه ورته له خولي وباسي نوبيا ددي غير شرعي اووحشيانه عملونو اجراکول ورته څه مشکل برېښي چي د مومنوهيوادوالو داستفادي وړخوراکي موادورته زهرجن کړي او ديو شمير خلکو دهلاکت باعث وګرځي .دښمنان له دغه ناوړه عمل څخه حرګتي اوچتوي يوداچي : که څه هم پدي شپو ورځوکي دټولو جهادي تنظيمونو په خوښه جوړشوي اسلامي حکومت دوروړحکمتيارصاحب په مشري دخپل وطن دآبادي اوشيرازي په کارونوکي ګرندي ګامونه اوچت کړي ، دامنيت اوسوکاله ژوند په لور روان دي ، پدي لارکي يي واقعاً ډيري هلي ځلي پکار اچولي خو په کمين کي پراته داخلي کمونستان اوبهرني دښمنان داوضعه نشي تحمل کولاي ځکه ددوي دبرباد ي اوختني کيدو په لورروانه ده اونورو چلوتو بي هم ښکاري ځاي ونه نيو ، ټولي دسيسي ،توطيي ، سازشونه اودجنګ عوامل بي هيوادوالو ته افشاشول داځلي بي دتخريبکاري اوګډوډي جوړولو بله لار ددغه باتدبيره اوپاستجشه اسلامي حکومت دمخنيوي لپاره ،ونيوله چي هغه دخوراکي موادو زهرجن کول دي . بل داچي دښمنان کوښښ کوي چي په هيواد کي اقتصادي کمزورتيا حاکمه کړي اوخلك محتاج وي ومولېدل کله چي په کابل ښارکي دخوراکي موادو دزهرجن کيدو خبره تيت شوه ،زموږدبرهيوادوال هغه خوراکي موادچي دخرڅلاو لپاره بي په بازارکي پلورل ، ياخو ګنده شول اوياپه ډيره ټيټه بيه وپلورل شول چي داپخپله دجنګ ځپليو هيوادوالوو لپاره يوه سخته اقتصادي ضربه ده . له بلي خوابي هيوادوال په يوويرجن حالت کي اچولي دي هرڅه ته چي دخوړلو قصدوکړي ويره به ورسره ملګري وي . لنډداچي دخپل لستوني مارمولندي کړي ،هري خواته خوله اچوي ، دخداي (ج) په خاطر بي موثر اودتل لپاره دځوريدلي ولس ورځني دخلاصيدو لاري چاري ولټوي چي ترټولو مهمه اوغوره لاربي داوسني نوي اسلامي حکومت سره دصادقانه اومخلصانه لاس يوکولو لارده که داموثرکارونشي نوژوند به موتل ديته ورته رنګارنګ خطر ونه تهديدوي .

ګرايش هاي تنظيمي،کيان حکومت اسلامي راتهديدميکند

چګونه ميتوان سرطان انحصارطلبي راجراحي کرد

عبدالرؤف "طينت"

تشکيل حکومت فراګيرمجاهدين که هسته هاي آن بعدازمعاهده اسلام آباد وجلسات پيهم بعدي واخيراً اجلاس جلال آباد بنيان ګذاري ګرديد ، باب نويني رادرمناسبات ميان تنظيم هاي جهادي کشور رهګشايي کرد .آرزوي که نيات قاطبه مردمان متدين وسلحشور کشور وآرمانهاي درخاك خفته صدها هزار ازبهترين وشايسته ترين فرزندان کشورکه همانند مجاهدين صدراسلام جام هاي شهادت راسرکشيدند وتا زمانيکه يك سلول زنده درميان انساج بدن شان باقي بود ، الله اکبر راسردادند ،مطمح نظرخويش قرارداد. اين فرصت طلايي که پس اززحمات بيشمارسايه اش را برکوي وبرزن کشور ګسترده است ،به يمن تلاش هاي پيګيرفرزندان اصيل اين مرزوبوم که شب وروز دربي حصول رضاي اوتعالي (ج) قدم ګذاشته اند، نبايد رايګان ازدست برود. تنظيم هاي جهادي کشور بايست ازاين پيشآمد ګراميداشت درستي بعمل آورده ومنبعد که حکومتي متشکل ازتمام نيروهاي جهادي کشور حيط امور رادردست مي ګيردازتبليغات سؤ برعليه يکديګر مطابق بخواست کميسيون آتش بس خودداري مينمودند.

متاسفانه اين مامول تابحال بدست مهارنشده وعواقب سوء ګرايش ها ميان تنظيم هاي مختلف جهادي

واستفاده نادرست ازرسانه هاي ګروهي وتبليغات زهرا ګين برعليه جانب مقابل پيوسته دنبال شده است. ګاهي چنان شده که راديو هاي غربي ضمن مصاحبه بايکي ازرجال سياسي صداي اختلافات ميان تنظيم هاي کشورراضبط وبدست نشرسپرده تابدين وسيله به جهانيان دستآوردهاي جهاد کشور وارزش هاي والاي آن رامخدوش جلوه دهند بايد به هر طريق ممکن بدشمن موقع داده نشود ارزش هاي جهادي کشور رامورد ايراد هاي اذيت کننده خويش قرار دهند .بايد هنګام مصاحبه باژورناليستان وخبرنګاران از ګرايش هاي تنظيمي که فرصت تبليغات بيشتر رابه انها جهت ضربه زدن به آرمانهاي انقلاب اسلامي ميدهد ، اجتناب ورزيم.

درکشورما بنابرپائين بودن سطح درك درست وآګاهي انقلابي ازاسلام بنابربي بهره ماندن ازحداقل نعمت سواد يك کتله عظيمي ازانسان ها وتبليغات زهراګين ائتلافيون کمونست که وار دصفوف مجاهدين شده اند و به دستور لينين که "کمونيست هاهنګام شکست تفرقه هاي ملي را دامن بزنند" زهراينګرايش ها متاسفانه تاثيرات سوءخودراتااندازه واردساخته است . مسلماً درميان تنظيم هاي کشوراشخاصي وجود دارند که به ساز دشمنان اسلام ميرقصند ودرآسياب آنان آب ميريزند. اينان که دراين عصر فضا واتوم بشيوه غلامان اعصارتاريك درخدمت اربابان شان قرار دارند ، بدستور انان منحيث مرغان دست آموز حاضر اند تمام مصلحت هاي که مضمر منافع کشورشان باشد بلاتکليف ورايګان ازدست بدهند.

هرزمانيکه اوضاع کشور بسوي بهبودي برود بلند ګوهاي غرب ضمن مصاحبه با اينچنين اشخاص سعي درخدشه دارشدن وجهه پروسه مورد نظر نموده وازآنها بعنوان قوماندان ، صاحب نظر ، روشنفکر وغيره به نفع خويش بهره برداري مينمايند . اينان که بانيش سخنان زهرآلود خود به نفع استعمار مصروف خدمت اند، در ازاي مصلحت هاي مادي حاضر اند تمام داروندار هم ميهنان شان راقرباني آمال ناپاك وشوم مشتي از اوباشان واراذل قراردهند . ګرچه هموطنان خبير ومتعهد مااکنون نيات شوم وتبليغات زهراګين بلند ګوهاي غرب رانيك دانسته اند وديګر فريب مکرآنها رانخواهند خورد. امااينکه يکي ازرجال سرشناس دولت اسلامي درضمن مصاحبه بااين راديوها سعي ميورزد صداي اختلافات وتفرقه هارابعناوين مختلف درست همان مرضي که کمونست ها تخم نفاق ملي رابدستور«لينين" بذرنموده اند ، دامن بزند ديګر غير قابل قبول وغير موجه است.

ويقول شاعر:

مؤمن نبودکسي که مارش
دريك بن غارزد دوبارش

ديګر تکراراشتباه جرم وخيانت است ،دشمن. که درکمين قرار دارد وامروزباېراه اندازي کودتاها برعليه جمهوري هاي مسلمان درآسياي مرکزي برضد حکوماتي که توسط انتخابات قدرت را دردست ګرفته اند، قرار ګرفته ودوباره کمونيست هارا روي صحنه مي آورد .، منتظر فرصت است تا دوباره همان جانيان وآدمکشان حرفه بي راروي کارآورند. درګذشته اين تبليغات سؤ، عليه يکديګر به جز ازضربه زدن به ارمان هاي والاي جهاد مقدس وتضعيف صفوف مجاهدين وضربه زدن به اعتبار ووجهه مجاهدين به سويه بين المللي کاري راازپيش نبرده است.

ولي تداوم اين روند که تکرار اشتباهات ګذشته است ، جرم وبي مبالاتي دررابطه به ارزش هاي مقدس جهاد محسوب ميشود که بايستي ازګذشت روزګارتجربه آموخت وخورده کاري هاي ګذشته تکرارنشود وقول شاعر را مدنظر داشته باشند که ګفته است: .

هرکه ناموخت ازګذشت روزګار
هيچ ناموزدزهيچ آموزګار

رسانه هاي ګروهي ، مطبوعات وراديو وتلويزيون بايد درانحصاريك حزب وياتنظيم سياسي قرارنګيرد وتبليغات نادرست رابرعليه احزاب ديګر قدغن قراردهد . متاسفانه برخلاف خواست کميسيون آتش بس راديوي کابل شامګاهان مورخ سيزده سرطان سال جاري دربولتين خبري خود درراکت باران محلات مسکوني شهر ادعا کردکه حکومت جديد بايد درزمينه تصميم اتخاذکند ومردم ازحکومت جديد مطالبه دارند تا جلو همچو اعمال خشونت بارګرفته شود واين دولت بايد هرچه عاجل تردست به اقدامات مقتضي بزند وقس علي هذا.

درمدت چهارده ماهي که ازتاسيس حکومت مجاهدين مي ګذرد ودرطي اين مدت جنګهاي متعدد خانمانسوز که تلفات هنګفت مالي وجاني وهجرت صدها هزار نفر راباعث ګرديده وبخش هاي ازشهر به مخروبه تبديل شده ګاهي هم اين راديو درمورد تماس نګرفته وحکومت وقت راګوشزد ننموده تاراجع به وضع تاسف آور مردمان شهروشهيد ومعلول شدن افراد بي ګناه اقدام عاجل نمايد. برعکس آن راديو مجاهدين مخلص وپاکباز راکه ازشرکت دراداره ائتلافي ابامیورزيدند ، مسؤول راکت پراګني هاي شهر معرفي مينمود ولي امروز وقتي حکومتي متشکل ازتمام نيروهاي جهادي زمام امورا دردست ميګيرد ، واضح ميګردد که پرتاب راکت درمحلات مسکوني آنهم شب هنګام بودزدانه کارګروهك هاييست که بدستور دشمن وبروفق مرادآنها دربي آنند تا ازاستقرار يك حکومت مقتدرمرکزي جلوګيري نمايند.

خوش بود تا محك تجربه آيدبميان تاسيه روي شود هرکه دراوغش باشد بايد هرچه زودترتدابيري راروي‌دست ګرفت که به تبليغات نادرست واتهامات بي اساس درمورد يکديګر خاتمه داده شود وتنظيم هاي جهادي کشور دريك جو مساعدناشي ازايجاد روحيه تفاهم بسر برده ونګذارند ثمره جهاد چهارده ساله شان که مولود عرق ريزي هاوجانفشاني هاي بيدريغ فرزندان اين خطه باستاني است ، لګد کوب سم ستوران استعمار شود.

دشهيدانجنير جلال الدين شيرزم تلين

دحزب اسلامي افغانستان دده سبز ولسوالي دجبهي امير شهيد انجنير جلال الدين "حميدالله " دعبدالمحمد زوي دشهادت شپږم تلين دي ټولو مسلمانانو ته مبارك وي.

راځي چي حساب وركړو

فضل غني كامه وال

په پخوانو زمانه اووختونوكي اكثره خلك په چل ول نه پوهيدل دتكي اوبرگي سره ئي دومره اشنائي نه درلوده نيك نظره انسانان پكي زيات ؤ دهرچاهره خبره ئي رښتياني گڼله. دسياسي لوبو اوچلونوسره بلدنه ؤ، صداقت ورورولي اورستنولي پكي ديرقدراوقيمت درلود. چلي، دروغجن اوتگمارته ئي ديره په بده سترگه كتل .

همداعلت وچي دپخوانيو زمانواكثره قدرت مندانوحومره ئي چي وسه شويده خپل ملتونه ئي غولولي، كرولي، زوورولي اودخپلوشخصي اغراضو، اهدافواودقدرت دبقالپاره په مختلفونيرنگونوسره ئي استعمال او استثماركريدي اوپدي برخه كي ئي ترديره حده دغولوونكي سياست نه كاراخستي دي .

مگرددي شلمي پيري كمپيوتري دنيا كي ديرحساس، هوسيار، پوه اوحيركه انسانان اوملتونه ژوند كوي چي دلته هرعمل او قدم دهرچاكره وره محاسبه كيري اوبي حسابه نشي پاتي كيدلي .

هغه زورتظاهري اوغولوونكي سياست په اوسني دنياكي نشي چليدلي . نن ورح انساني تولني اوملتونه دخپلوواكدارانو سره ورح په ورح محاسبه كوي اوواكداردملت په وراندي دخپلو اجرااتواوكارونومسئوليت پرغاره لري .

نوراحي چي وگوروپدي يوكال اوحومياشتوكي مونر دي خپل ملت اوخاوري ته حومره كاراوخدمت كريدي حه ناحه محاسبه وركرو:

۱- آبادي :

پدي برخه كي موحومره كوروونه ابادكريدي اوحومره نوريبا تخريب اووران شويدي حومره كورني موږه حاي كريدي اوحومره نوري بيامويه هجرت مجبوره كري دي .

حومره سركونه، بندونه ،پلونه ، كانالونه ، ترميم ياتعميرشويدي اوحومره نوريباتخريب شويدي ؟

په حومره تعداد كوندو، رندو ، يتيمانواو معيوبينو لپاره مودژوند وسائل اوكوروونه ابادكرل؟ اوكه نه ددوي تعداد مولاپسي زيات كرو ؟

مره ديرشول اوكه ژوندي ديرپيداشول .

۲- اداره :

په كومه اندازه قوانين اولوايح ترتيب شول؟

اويه حومره تعداد باتجربه مسلمانان مجاهدين مهاجرين اوزوريدلي كسان مويه ادارو اووزارتونو مقرراوحاي پرحاي كرل شول . اوكه نه ؟ تراوسه لاهمغه زاره ياران بي غمه پرخپلوچوكيوكاركوي ؟

۳- كرهنه :

حومره دهقانان حاي پرحاي شويدي اوحرمره حمكي خرويه اوابادي شويدي حومره اصلاحي تخم توزيع اوحومره كيمياوي كودوركرشويدي ؟اوكه نه ؟ تراوسه مولاخوله وازه نيولي اويوه بوري اوره په ديرش زره افغاني اخلواوكرهند خواصلاً دچاپه خوااوخاطركي نه گرحي .

حومره ديني مدرسي، سوونحي اوليسي ، موتاسيس اوفعالي كريدي اوحومره محصلين په فاكولتوكي درسونه وايي . اوكه نه ؟ تراوسه لازمونږيچي په بهرنيو ملكونو كي دتشويش په حال كي په درس مصروف دي .

۵- تجارت :

زمونږواردات اوصادرات په كومه اندازه مخ پروراندي تللي اولدي مدركه حومره گمركي محصولات بيت المال ته سپارل كيري اوكه نه ؟ محصولاتويه شخص جيبونوكي تمركزنيولي اوزمونږ مهم صادرات بهرته اوسپنه تشكيلوي ؟

٦- نظامي برخه :

په نظامي برخه كي دخاوري له ساتني لپاره حومره وسلي برابري شويدي اوحومره تخريب اوخرحي شويدي اوحومره مسلكي صاحب منصبان په نظامي رشته كي روزل شوي اويه وظيفه گمارل شويدي .

اوكه نه ؟ همغه زاره (كمونستان) دي .

